# په نړۍ کښې د ژبپوهنې د پیدایښت لنډ تاریخي جاج

# A SHORT HISTOTRICAL OVERVIEW OF THE EMERGENCE OF LINGUISTICS IN THE WORLD

**Rafiullah Niazi**★

**Abstract:**

Linguistics as independent discipline has no long history but in different parts of the world, various aspects of language have been studied and written about since long. With the passage of time these basic studies proved as a base for modern scientific study of language that is linguistics. Today, linguistics as a discipline is a wide spread disciplines with many sub branches and taught and studies in the universities across the world.

This article deals that when and where studies and writings about linguistics initiated. It also discusses that how these early studies of linguistics have evolved through various stages and reached to the current status.

**Key Words:** Linguistics, discipline, history, scientific, evolved

د یوه ځانګړي علم په توګه ژبپوهنه ډېره لرغونې مخینه نه لري، خو د ژبپوهنې د ځینو اړوندو برخو په اړه د نړۍ په بېلابېلو سیمو کښې له لرغونو زمانو راهسې څه نا څه څېړنې او لیکنې شوي، چې د مهال په تېرېدو سره همدغه لیکنې د ژبپوهنې د نوي علم د بنسټ ایښودو لامل وګرځېدې. نن سبا ژبپوهنه په نړۍ کښې د یوه مطرح علم په توګه بېلابېلې څانګې لري او د نړۍ په پرمختللو پوهنتونوکښې پکې لوړې زده کړې کېږي. مونږ په دې لیکنه کښې دا څېړو، چې په ژبپوهنې پورې اړوندې ژبنۍ لیکنې او څېړنې کله، په کوم ځاے او کومه ژبه کښې پیل شوي او د کومو پړاوونو په تېرولو سره اوسني حالت ته رارسېدلي دي؟

په بېلابېلو څېړنیزو آثارو کښې په نړۍ کښې د ژبنیو څېړنو د پېدایښت موضوع تر بېلابېلو سرلیکونو لاندې څېړل شوې، لکه ژبپوهنه په لوېدیځ او ختیځ کښې، ژبپوهنه په یونان، روم، هند، عربو، چین او نورو ملکونو کښې، ژبپوهنه په یوناني، لاتیني، هندي، عربي، چیني او نورو ژبو کښې او داسې نور. دلته باید دوه خبرې روښانه شي، لومړۍ دا چې په

---

★ **Associate Professor Academy of Sciences of Afghanistan, Kabul**

نړۍ کښې د لومړي ځل له پاره ژبنۍ څېړنې په ختيځ کښې پيل شوي، که په لوېديځ کښې؟
دويم دا چې په لوېديځ کښې د ژبنيو څېړنو د تاريخ د پيل مسأله روښانه ده، چې له لرغوني يونان څخه پيلېږي، خو په ختيځ کښې يې په اړه څه خبرې شته. د ختيځ په کومه سيمه کښې چې پانيني زېږېدلی او ژوند يې کړی، هغه د هندوستان برخه نه، بلکې د لرغونې آريانا د ګندهارا او د اوسنۍ پښتونخوا سيمه ده. د غربي پوهانو په څېړنو کښې پانيني هندوستانی او سنسکرېټ د هنديانو ژبه ګڼل شوې؛ خو حقيقت دا دی چې سنسکرېټ يوه آريايي ژبه ده او نننې هندي آريايان ټول د لرغونې آريانا له بلخ، يعنې له اوسني افغانستان او پښتونخوا څخه هند ته تللي دي. د ويدا لومړنې بنسټونه هم د لرغونې آريانا د بلخ سيمې په شاوخوا کښې اېښودل شوي او د سنسکرېټ ژبې آره مبدا هم د پښتونخوا سيمې دي، ځکه چې ددې ژبې لرغوني ډېرليکونه په ګندهارا پورې له اړوندو سيموڅخه ترلاسه شوي دي. اروابناد ډاکټر محمد رحيم الهام، چې په پښتو ژبه کښې د نوي ژبپوهنې سرلاری ګڼل کېږي، په همدې عقيده دی، هغه په خپله يوه ليکنه کښې کاږي:" د غربي پوهانو د نظرياتو په خلاف ژبپوهنه نوے علم نه، بلکې لرغونے علم او د هغې ټاټوبی او مبدا يونان نه، بلکې پښتونخوا ګڼم"(۱)
ژبپوهنه په آريانا کښې: ژبنۍ څېړنې او ژبپوهنه په ځانګړې ډول ګرامر ليکنه د آروپا پر تله په آريانا کښې لرغوني مخينه لري، په آريانا کښې د لومړنيو ژبپوهنيزو څېړنو تاريخ ان د لرغونو آريايانو د ويديک سنسکرېټ (Vedic Sanskrit) زمانې (له ۱۵۰۰ق.م څخه تر ۵۰۰ق.م) ته رسېږي. دا علم په آريانا کښې د پېدايښت په لومړنيو مرحلو کښې ډېر وغوړېد، خو اروپايان ترې ډېر وروسته خبر شول؛ هغه مهال چې يونانيان په ژبنيو څېړنو کښې د يوه شي او د هغه د نوم تر منځ د اړيکو پر فلسفي بحث بوخت ول، په آريانا کښې د سنسکرېټ ژبې بشپړ ګرامر ليکل شوی و. د لرغونې آريانا په پخواني بهارت او ګندهارا کښې د ژبپوهنې په ټولو څانګو کښې ګرامري څېړنو ته ډېره پاملرنه شوې وه، ګرامر به د ټولو پوهنو اساس او هره علمي څېړنه به له ګرامره پيلېده. لامل يې هم دا وچې هغوی غوښتل ځانونه په پوره ډول په سنسکرېټ پوه کړي. سنسکرېټ علمي، مذهبي او ادبي ژبه وه، د عوامو له ژبې، يعنې پراکرېټ سره يې هغه مهال ډېر توپير درلود او نږدې ټول علمي او ادبي کلاسيک آثار هم په ويديک سنسکرېټ ليکل شوي ول. د آريايانو نوے نسل د ويديک سنسکرېټ پر آثارو او مذهبي متونو نه پوهېده، نو له همدغه امله يې پوهانو ګرامري څېړنې پيل کړې، چې وکړای شي د سنسکرېټ د کلاسيکو آثارو او مذهبي متونو ستونزمن ځايونه نوي نسل ته توضيح او اسانه کړي او ورسره

د ویدیک سنسکرېت (Vedic Sanskrit) له کلاسیک سنسکرېت (Classic Sanskrit) سره توپیر وشي. د وخت په تېرېدو سره دا لرغوني ژبه او تر یوه بریده یې وروستی ډول، یعني کلاسیک سنسکرېت په تدریجي ډول له کاره ولوېد او هېر شو، دې کار پوهانو ته ستونزې پېدا کړې، له دې وېرې چې دا مذهبي متون خوندي شي، نو د هغو په لیکلو یې پیل وکړ او د لیکلو له پاره د قواعدو اړتیا وه، چې دا ستر کار د سنسکرېت ژبې مشهور ګرامر لیکونکي پانیني وکړ.

په اریانا کښې ژبپوهنه د پانیني د آثارو په رامنځته کېدو سره ارتقا ته ورسېده، ځکه د پانیني ګرامر د پخوانیو هندي ګرامري څېړنو په برخه کښې لومړنے منظم اثر ګڼل کېږي. په دغو څېړنو کښې له هغه علمي میتود څخه کار اخیستل شوی، چې په اوسنۍ یا نوې ژبپوهنه کښې یې تاریخي- پرتلیز میتود بولي او د اروپايي ژبپوهانو د څېړنو لاس ته راوړنه ګڼل کېږي. په ختیځه نړۍ کښې د آریانا ځینو پوهانو له اپلاتون څخه وړاندې خپلې ځینې ژبې په پوره ډول مطالعه او تشرېح کړې وې، چې له هغو څخه نن سبا یوازې د پانیني ګرامر پاتې دی.

د سنسکرېت ژبې د ګرامر له کشف وروسته د پانیني او د هغه د ګرامر په اړه په ختیځه اریانا او د نړۍ په نورو برخو کښې ډېرې څېړنې وشوې. په دغو څېړنو کښې د پانیني د ژوند د زماني په اړه اختلاف شته، خو نږدې ډېرو پوهانو د پانیني د ژوند زمانه له میلاد وړاندې د څلورمې پېړۍ شاوخوا کلونه ګڼلي دي. ارواښاد ډاکټر محمد رحیم الهام وايي:" پانیني د آریانا د ګندهارا سیمې اوسېدونکی و، د ژوند او زماني په اړه یې بشپړ معلومات نشته، خو انګلیسی ژبپوهاند ماکس میولر یې د ژوند زمانه له میلاد وړاندې څلورمه پېړۍ ګڼي، ګولدزیخر جرمنے پوهاند یې له میلاد وړاندې اتمې پېړۍ ته رسوي؛ جان کرول امریکایی ژبپوهاند وايي، چې پانیني له میلاد وړاندې په درېیمه پېړۍ کښې ژوند کاوه، همدا راز جان هیوز هم دی د څلورمې پېړۍ ژبپوهاند ګڼي"(۲)

میرسید بخاري په *لاهور (ګندهارا) تاریخ کے اینے مین* کښې لیکي:" ډاوسن یې په څلورمه یا شپږمه پېړۍ قبل مسیح کښې وايي"(۳)

په *قرون وسطی مین هندوستانے تهذیب* نومې کتاب کښې" د مهارشي پاڼي ني د ژوند زمانه شپږمه ق.م سدۍ ښوول سوې ده"(۴)

"راجني کانته ګوپتا په خپل کتاب *Panini* کښې د مهارشي پانیني د ژوند زمانه د اتمې او نهمې قبل المیلاد سدیو ترمنځ ښوولې ده"(۵)

د پانيني په اړه چې څومره څېړنې شوي، په ډېرو کښې يې د هغه د زوکړې ځاے د پښتونخوا سوابۍ ګڼل شوې، خو د پانيني د زېږېدو ټاټوبی په ځينو څېړنو کښې په ټېکسلا، په ځينو کښې په پنجاب او په ځينو کښې په پشکلاوتي، يعنې اوسنۍ چارسدې پورې نښلول شوی دی.

ارواښاد پوهاند رشاد په خپل اثر *لغوي څېړنه* کښې کاږي:"د پښتونخوا په شمال شرقي څنډه کښې اټک د هغه ځاے نوم دی، چې هلته د کابل څپانده رود د لنډي(Landi) په نامه د پښتنو په اباسين ګډېږي. له اټک څخه د شمال خوا ته پنځلس شپاړس ميله ليرې د اباسيند پر لوېديځه غاړه د سوابۍ په سيمه کښې د پښتنو يوکلی پروت دی، چې هنډ (Hand) باله سي... د اوسني (هنډ) پر چارپېره د يوه داسې زاړه ښارکنډوالې او کنډرونه راګرزېدلي، چې اوږده يې دوو ميلو ته رسېږي. دغه زوړ ښار، چې په تاريخونو کښې د وايهند Vāhind- ويهند Udahhanda او Udakakahanda ، Und،Ouhand ،Ohind -Vayhind په نومو ياد سوی، يو وخت د پخواني ګندهاره پايتخت و... د اوسني هنډ يا پخواني ويهند په لوېديځ کښې لږ څه د شمال خوا ته څلور ميله ليرې يو کلی پروت دی، چې اوس يې پښتانه لاهور(Lāhor) بولي، د دغه لاهور په شاوخوا کښې هم د خاورو غونډۍ، زړې کنډوالې او کنډرونه سته...مشهور ختيځ پوه Cunningham د *Ancient Geography of India* په ۲۷ مخ کښې دغه غونډۍ اوکنډوالې د هغه *Śalatura* نومې ځاے پاته سوې نخښې بللي، چې"مهارشي پاڼي نې" هلته زېږېدلی و او د زوکړې د ځاے له امله *Śalaturiya* باله کېده"(۶)

انګليسي ته د پانيني د *اشټ ادهيايي* اثر ژباړن او هندوستانے ليکوال سريسا چندرا واسو وايي:" له دې امله چې د پانيني د زېږېدو ځاے د سلاتوره کلي ياد شوی، چې د ګندهارا په ملک کښې له اباسين څخه د څو ميلو په فاصله کښې شمال لوېديځ ته پروت دی، نو وروستنيو ليکوالو هم په همدې وجه هغه ته سلاتوريا ويل او د دې نوم جوړښت هغه په خپل ګرامر کښې پخپله ذکر کړی دی"(۷)

د دغومعلوماتو په رڼا کښې بايده په زغرده ووايو، چې پانيني د لرغونې آريانا د ګندهارا، يعنې د اوسنۍ پښتونخوا د سوابۍ د لنډي لاهور په سلاتوريا نومې کلي کښې زېږېدلی و، اټک، سوابۍ او لنډی لاهور د پښتونخوا هغه سيمې دي، چې له زرګونو کلونو راهيسې پکښې پښتانه آريايان آباد دي، نو په يقين سره چې مهارشي پانيني پښتون و، چې د لومړي ځل له پاره يې د سنسکرېت ژبې ګرامر ليکلے و.

د نړۍ ډېرو ژبپوهانو د پانیني د ګرامر تعریفونه کړي، جان کرول په خپل اثر د *سټډي اف لنګويج* کښې وايي:"په درېيمه يا له هغې څخه په لا وړومبي قبل الميلاد پېړۍ کښې په ختيځه نړۍ کښې يو عجيب او مهم تحول رامنځته شو او هغه دا، چې د يونان له ګرامرپوهانو څخه بېخي جلا د هندي ژبو يوه ګرامر پوه چې پانيني نومېده، داسې شهکار راوکېښ چې د سنسکرېټ کره تشريحي او غير فيلسوفانه تحليل او تجزيه وه. دا چې له دې شهکار څخه پخوا د ژبې په باب څومره نور علمي آثار په ختيځ کښې کښل شوي مونږ پرې نه يو خبر، خو د پانيني ګرامر لا تر اوسه د يوې ژبې د خورا جامع او کره تشريحي ګرامر حيثيت لري. د څېړنو اصول يې ماهرانه دي او ددغو اصولو پيروي د اروپا د رنسانس له دورې څخه تر نن پورې د ژبنيو څېړنو په تحول او پرمختګ کښې لويه برخه لري او اکثر معاصر ژبپوهان ځانونه دده مرهون ګڼي"(۸)

د پانيني د سنسکرېټ ژبې د ګرامر اښت ادهيايي جوړښت، سکښت او منځپانګې ته په کتو بايد وويل شي، چې دا ګرامر په ناڅاپي ډول نه دی ليکل شوی، بلکې له پانيني وړاندې هم ډېرو مذهبي پوهانو په دې برخه کښې کار کړی او پانيني په خپل اثر کښې له ځان وړاندې ځينو نورو ګرامر ليکونکو ته هم اشاره کړې، د هغو له ډلې يې ځينې مطالب د *ياسکا* په نامه له يو ګرامر ليکونکي څخه رانقل کړي هم دي، چې د ( ۵۰۰ ق. م) په شاوخوا کښې يې ژوند کاوه. په دې اړه پخپله پانيني ليکي:"ما د خپلو متقدمينو آثار کتلي او له هغوی څخه مې په خپلو تحقيقاتو کښې پوره استفاده کړې ده"(۹)

نو له دې څخه څرګندېږي چې په آريانا کښې د ژبې ګرامري مطالعه له پانيني څخه هم وړاندې پيل شوې وه.

ژبپوهنه په يونان کښې : په لوېديځ کښې د ژبپوهنې د څېړنو د تاريخ څېړونکي، يوناني فيلسوفان په نړۍ کښې د ژبې د علم بنسټګر ګڼي، خو د لرغوني يونان له پوهانو څخه د يوناني او يا د هغه مهال د نورو ژبو په اړه کوم اثر نه دی راپاتې چې د آريانا د پخوانيو پوهانو په ځانګړي ډول د پانيني له اثر سره سيالي وکړي. په دې اړه موريس لېروی وايي:"دا يوه عجيبه خبره ده، يونانيانو سره له هغې پاملرنې، چې له تاريخ او واقع نګارۍ سره يې لرله، مونږ ته يې د هغو وګړيو د ژبو په اړه د پاملرنې وړ کوم معلومات نه دي پرېښي، چې دوی ورسره په تماس کښې شوي دي"(۱۰)

په ډېرو څېړنو کښې د دې خبرې لامل دا ښودل شوی، چې يونانيانو ټولو نايونانيو وګړيو ته په سپک نظر کتل او بربريان (Barbarian) يې بلل. هغوی يوازې خپل ځانونه متمدن ګڼل، نو

ځکه د بربریانو ژبو ورته ارزښت نه درلود. په اروپا کښې لومړني وګړي چې د ژبنیو مسایلو په اړه یې لومړنۍ څېړنې کړي یونانیان دي."په یونان کښې د ژبنیو څېړنو لومړنۍ لاس ته راوړنه له هغه مهال سره اړیکه لري، چې په یوناني ژبه کښې هېڅ لیکلی سند نه و. له میلاد وړاندې د لومړۍ زریزې په اوایلو کښې د یوناني ژبې له پاره ځانګړې الفبا جوړه شوه، چې پر بنسټ یې بیا وروسته بله یوناني الفبا هم جوړه شوه او د اتن ګړدود (اتني یوناني) او د نورو ټولو ادبي ګړدودونو له پاره تري ګټه واخیستل شوه"(۱۱)

څه ډول چې د(۲۰۰-۵۰۰ ق م) پېړیو په شاوخوا کښې د یونان ټولنیز جوړښت او شرایطو له نورو سیمو سره توپیر درلود، هماغه ډول یې تفکر هم توپیر درلود، هغه څه چې به نورو خلکو ته عادي ښکارېدل، یونانیانو ته به مهم ول او په فلسفي نظر به یې ورته کتل.

بلومفیلډ وایي:"لرغوني یونانیان داسې تنظیم شوي ول، چې د شیانو په اړه به یې تامل او څېړنې کولې، یا به کښېناستل او په اړه بې یې عجیبې پوښتنې کولې، په داسې حال کښې چې نورو ملتونو به هغه شیان د بدیهیاتو په ډله کښې شمېرل"(۱۲)

د لرغوني یونان ځیني پوهان د نورو مسایلو تر څنګ د ژبې جوړښت ته هم ځېر شوي، د دوی ژبني بحثونه له هماغه پیله دوه ډوله مطرح کېدل، یو بحث دا و، چې انسان ژبه او خبرې څه ډول زده کوي او بل بحث دا و، چې د انسان ژبه څه ډول کار کوي؟ ددغو دوو بحثونو نچوړ دا و، چې د یوه شي او د هغه د نوم ترمنځ اړیکې طبیعي دي که غیر طبیعي؟ دې بحث د سقراط (۳۹۹-۴۶۹ق.م) تر دورې پورې دوام درلود، خو له سقراط څخه لیکلی کوم سند نه دی راپاتې. د لرغوني یونان او دآریانا د ژبنیو څېړنو ترمنځ توپیر دا و، چې د آریانا ژبپوهنه پر تجربې ولاړه وه او د لرغوني یونان ژبنۍ څېړنې او ټول ژبني مسایل د فلسفې په اډانه کښې څېړل کېدل. د یونان اوځار فیلسوف افلاطون (۳۴۴-۴۲۷ ق م) د لوېدیځې نړۍ لومړنی پوهاند دی چې د ژبې د بنسټ او څرنګوالي په اړه یې فلسفي څېړنه کړې، له همدغه امله د لوېدیځې نړۍ د ژبپوهنې موسس هم ګڼل شوی دی. افلاطون په خپل اثر کراتیلوس (cratylus) کښې د کلماتو د منشأ او پېدا ایښت په بحث کښې د نوم او شي د اړیکو په برخه کښې وایي: د یوه شي او د هغه شي د نوم ترمنځ یوه طبیعي او اړینه اړیکه شته یا په نورو ټکو: هغه نوم چې پر یوه شي ایښودل شوی، هماغه نوم یا کلمه د هغه شي طبیعي نوم دی.

افلاطون لومړنی کس و، چې ځینو ګرامري اړیکو ته یې پام شو." هغه په سوفیست کتاب کښې د جملې دوه برخې اسمي او فعلي وپېژندلې، چې په حقیقت کښې همدغه دوه ډوله وېش

لومړنۍ ګرامري توپير دی، چې په ټولو وروستيو ګرامرونو کښې پاتې شو، پر دې سربېره اپلاتون د لومړي ځل له پاره هغه کلمه چې عمل ته اشاره کوي(فعل) او هغه چې پر شخص يا يو شي چې عمل له هغه څخه سر وهي، يعنې(عامل) يا کوونکی(اسم) ونوموه، له همدغه امله اپلاتون د ژبې د ګرامر د تحليل او څېړنې پيلوونکی پېژندل کېږي"(۱۳)

له ارستو وروسته رواقيانو ژبني بحثونه تاوده وساتل، ژبه يې له څو اړخونو وڅېړله، لکه غږپوهه، ريښه پېژندنه او د ژبې ځينې فلسفي مسايل، په ځانګړي ډول يې د شکل او معنا تر منځ اړيکي ته پام واړوه. د ژبې په اړه په دغه ډول فلسفي بحثونو کښې د اپلاتون او ارستو نظرياتو د انالوجستانو او اناملستانو په نامه دوه ډلې رامنځته کړې.

" انالوجستان وايي ژبه يوه طبيعي حادثه ده او منطقي اساس لري... اما اناملستان د انالوجستانو د نظريې مخالف وايي چې په ژبه کښې ټول شيان تر تنظيم او قاعدې لاندې نه راځي، بلکې ډېر داسې شيان هم پکښې پېدا کېږي، چې قاعده نه لري، نو له دې کبله بايد وويل شي، چې ژبه طبيعي حادثه نه شي کېدای، بلکې وضعي شی دی، چې پخپله د ټولنې له خوا جوړه او متکامله شوې ده"(۱۴)

د سکندريې ښار چې نن سبا په مديترانه کښې د مصر له شمالي بندرونو څخ يو بندر دی، پر ۳۳۲ ق.م کال د مقدوني سکندر(۳۲۳-۳۵۶ ق.م) په امر جوړ او د سکندر له مړينې وروسته د هغې سيمې پلازمېنه شوه، چې د سکندر د فوځ د يوه قومندان بطليموس په لاس کېوته. سکندريه د هغه مهال د علومو تر ټولو مهم علمي مرکز شو او له يونان او نورو سيمو څخه به ورته پوهان او عالمان ورتلل. اقليدس، ارشميدس، بطليموس، اراتستن او نورو لسګونو علماوو او نوموتو متفکرينو له همدغه علمي مرکز څخه سرچينه اخيستې ده. هغه پوهان چې د سکندريې په علمي مرکز کښې پرڅېړنو او مطالعاتو بوخت وو د يونان د ژبپوهنې په تاريخ کښې د *سکندريانو* په نامه يادېږي.

ايرانی ليکوال کورش صفوي وايي:" سکندريانو د ژبپوهنې په تاريخ کښې داسې مهم رول لوبولی، چې د ژبپوهنې يوه برخه د هغوی نظريو ته ځانګړې شوې، د دغو کسانو په ډله کښې دري تنه اريستارخوس، ديونوسيوس تراکس او اپولو نيوس دسکولس ډېر مطرح دي"(۱۵)

د سکندريې په علمي مرکز کښې د ژبوهنې پوهان هم پر ژبنيو او ادبي مطالعاتو بوخت ول. هغوی د هومر د الياد او اودېسې د مختلفو نسخو له پرتلې څخه معلومه کړه، چې ډېر توپيرونه لري او د سکندريې ښار د يوناني ژبو وګړيو له محاورې سره هم يو شان نه دي. د هومر

د حماسي اشعارو ټولګې ته یونانیانو د تقدس په سترګه کتل، نو ژبپوهانو وپتېیله ټولې نسخې سره پرتله او یوه معتبره نسخه ترې برابره کړي، چې له تحریف څخه خوندي شي، نو متون یې په ګرامري لحاظ هم تشریح کړل. یوناني ژبپوهانو د خپلو ګرامرونو په لیکلو کښې دوه موخې درلودې: لومړی دا چې د خپلې زړې ژبې متون تشریح کړي او دویم دا چې یوناني ژبه له فساد او انحطاط څخه خوندي کړي.

"په سکندریه کښې د هومر د اثارو د علمي څېړنې بنسټګر اریستارخوس و، چې له میلاد وړاندې په دویمه پېړۍ کښې یې ژوند کاوه. ځینې ګرامري پرمختګونه ده ته منصوب شوي او د ژبپوهنې په تاریخ کښې د داسې لومړني اثر د لیکوال په توګه څرګند شوی، چې یوازې د یوناني ژبې په توصیف کښې لیکل شوی دی"(۱۲)

د تراخس اثر د ژبې د ګرامر فن نومېده، چې په یوناني ژبه کښې یې ( Techne grammatike) بولي، چې د یوناني ژبې د جوړښت لنډه شرحه وه." د ګرامر اصطلاح چې په ټوله اروپا کښې اوس استعمالېږي د (Gramma) له یوناني کلمې څخه چې د توري ( الفبې د توري) په معنا ده مشتق شوې او د (Graphene) له مادې څخه راوتلې، چې د لیکلو معنا لري او د(Gramma) کلمې د جمعې صیغه یعنې Grammata لومړی پر حروفو، بیا پر الفبې، وروسته د لیکلو پر قواعدو او په پای کښې د علم پر مبادیو باندې په ترتیب سره اطلاقېږي"(۱۷)

"یونانیانو له میلاد وړاندې تر پنځمې پېړۍ پورې د خپلې ژبې نحوه نه وه تدوین کړې، لومړنی یونانی چې د نحوې علم یې تدوین کړ پروتوګوراس و، چې له میلاد وړاندې په ۴۱۱ کښې وفات شو. هغه په لنډ ډول د مذکر او مونث او د ټولو نومونو مطالب تنظیم او قواعد یې ورته بیان کړل، بیا وروسته پرودیکوس د پروتوګوراس معاصر د مترادفو کلمو په اړه خبرې وکړې، بیا ارسطو او نورو پرې مطالب اضافه کړل"(۱۸)

ژبپوهنه په روم کښې: رومیان یو واحد قوم او نژاد نه، بلکې د بېلابېلو قامونو او نژادونو یو ګډ ترکیب و، چې د تاریخ په اوږدو کښې یې د اروپا په بېلابېلو سیمو کښې ژوند کاوه او د روم د امپراتورۍ له پراخېدو سره د رومیانو په نامه یاد شول. رومیانو د قدرت نیولو له هماغه لومړۍ مرحلې څخه یوناني تمدن او فرهنګ د غوره تمدن او فرهنګ په توګه قبول کړ. د رومیانو د امپراتورۍ په لوېدیځو ولایتونو کښې لاتین د اداري چارو رسمي ژبه وه او په ختیځو ولایتونو کې یوناني. د یوناني ژبې ادبیاتو او فلسفې په ختیځو ولایتونو کښې ادامه پیدا کړه او د روم د امپراتورۍ له وېش سره په دوو سیمو شرقي او غربي کښې یوناني ژبه د

ختیځ روم د امپراتورۍ رسمي ژبه پاتې شوه، نو د روم امپراتوري چې د قدرت په لحاظ ځوچنده له یونان څخه پیاوړې وه، خو پخپله یې داسې فرهنګ نه درلود چې د یوناني فرهنګ په وړاندې ودرېږي، نو ناچار یوناني فرهنګ ته تسلیم شول او د ژوندانه په هره برخه کښې یې د یوناني فرهنګ تقلید پیل کړ.

د شته اسنادو پر بنسټ مارکوس ترنتیوس وارون(۲۷-۱۱۶ق.م) لومړنی رومي لیکوال دی، چې د لاتین ژبې په اړه یې څېړنې کړي دي. وارون ته ډېر اثار منصوب دي، چې ډېر یې اوس له منځه تللي، خو:"*لاتین ژبه* De lingua Latina اثر یې، چې له پنځه ویشتو څخه ډېر ټوکونه یې درلودل او اوس یې هم له پنځم څخه تر لسم ټوک پورې او د نورو ټوکونو ځینې څېرې ورقې موجودې دي، په همدغه کتاب کښې وارون د ژبپوهنې په اړه خپلې نظریې ځرګندې کړې دي"(۱۹)

په دې اثر کښې وارون د ژبې د ماهیت پر طبیعي والي او قراردادي والي غږېدلی، چې د اپلاتون له نظر سره بې شباهت نه دی."هغه هم معتقد و، چې ژبې په پیل کښې طبیعي ماهیت درلود او د وخت په تېرېدو سره ناځرګنده شوه. وارون چې کله د رېښه پېژندنې (etymology) په اړه غږېږي لکه د رواقیونو او له هغوی څخه وړاندې د مطالعاتو په څېر معنایي توضیحاتو ته ورځي...یوه مهمه خبره چې د لومړي ځل له پاره وارون مطرح کړې، دا ده چې په لاتین ژبه کښې د اشتقاقي جوړښتونو او تصریفي جوړښتونو ترمنځ توپیر شته"(۲۰)

په غالب ګومان وارون په رومي لیکوالو کښې تر ټولو خپلواک او اصیل لیکوال و، چې ژبپوهنیزې څېړنې یې پیل کړې او آثار یې ولیکل، له هغه وروسته څو تنه نور هم شته، لیکنې یې ښایي د ژبپوهنې په موجودو بحثونو کښې راشي، خو نوې خبره پکښې نه موندل کېږي.د روم د امپراتورۍ ښوونیز نظام داسې برابر شوی و، چې د سیاسي او اداري امورو له پاره باید ژبور او خوله ور خلک موجود وای، په همدغه دلیل زده کړې د خطابې پر فن ولاړې وې. شاګردانو به د لیک له زده کړې ووروسته د لاتین ژبې د ګرامر زده کړې او د ادبي متونو ګرامي تحلیل ته وخت ورکاوه او د تحصیل د پای په دوره کښې به د خطابې د فن پر زده کړه بوخت ول، له همدې امله به ډېرو استادانو خپلو شاګردانو ته د لاتین ژبې د زده کړې ګرامري درسونه برابرول.

"د وارون له دورې وروسته په پرلپسې ډول څو پېړۍ د ګرامر لیکونکو دنده همدا وه او د وارون او د کویین تیلیان( ح ۹۵-۳۵م) ترمنځ په فاصله کښې د لاتین ژبې د دریو ګرامر

لیکونکو نومونه مونږ ته څرګند دي، چې رومیوس پاله یمون، والریوس پروبو او پانزا نومېدل"(۲۱)

د وارون، کوپین تیلیان او د نورو هغو کسانو له آثارو، چې د لرغوني روم د تاریخي دورو په لومړنۍ دوره کښې پر ژبنیو څېړنو بوخت ول داسې معلومېږي، چې د هغه مهال لاتیني ژبو څېړونکو ټولو د یونان ژبپوهنیزې نظریې زده کولې او جذبولې او بیا به یې د لاتین ژبې په تحلیل کښې ترې کار اخیسته، خو په لاتیني ټولنه کښې په ژبپوهنیزو څېړنو کښې نړیوال شهرت تر ټولو ډېر د دې ټولنې د وروستنیو څېړونکو په برخه شو، هغوی د لاتین ژبې داسې توصیفي ګرامر ولیکه، چې له لرغونې زمانې څخه په راوروسته دور، ان تر منځنیو پېړیو پورې یې دوام وکړ.

"رومیانو د لاتین ژبې له پاره قواعد نه درلودل، له میلاد وړاندې، په لومړۍ پېړۍ کښې د پوپیوس په زمانه کښې د دیونیسیوس تراکس په نامه عالم له یونانیانو پیروي وکړه او لاتین ژبې ته یې قواعد تدوین کړل"(۲۲)

ژبپوهنه په چین کښې : مخکښې له هغې چې اروپایي پوهان له چیني ژبې سره کومه اړیکه جوړه کړي، چینایانو د ژبپوهنې خپل ځانګړي مطالعات درلودل، چې په همدوی پورې ځانګړي او د همدوی د خپل وطن ول.

کومې ژبنۍ څېړنې چې په چین کښې شروع کېږي تر ډېره حده په عمومي ډول د هندي ژبپوهنې د خط السیر سره توپیر لري. "په هند کښې اکثره څېړنې پر ګرامر بنا وې، خو په چین کښې بیا زیاترو فلسفي رنګ غوره کړی و. ژبه د پخوانیو چیني پوهانو په عقیده د طبیعت محصول دی. کوم غږونه چې د انسانانو له خولې وځي د مرغانو او د سیندونو له اوازونو سره کوم توپیر نه لري. انسان په اصل کښې ګونګ منځ ته راځي، لکه واښه، اوبه او کاڼي. سړی هغه مهال مجبورېږي چې خبرې وکړي، کله چې نه غواړي خبرې وکړي او کوښښ کوي ځان له خبرو کولو څخه وساتي. انساني اوازونه د ځینو غږو د اهتزاز په نتیجه کښې راپېدا کېږي. متکامله ژبه هغه وخت منځ ته راځي، چې انسانان دا استعداد پیدا کړي، چې مستقلې معنا لرونکې کلمې تلفظ کړای شي، ځکه د ابتدایي انسانانو ژبې ډېر ساده شکل درلود"(۲۳)

د همدې تیورۍ (د ژبې د پیدا ښت تیورۍ) موسس تر اوسه په مستند ډول نه دی معلوم، خو دومره څرګنده ده، چې دغه تیوري په اتمه پېړۍ کښې د چین د مشهور عالم خان وین کون (۷۲۸-۸۲۴م) له خوا خپره شوې او تکامل یې کړی.

روسی لیکوال ک.ی.ګګایف لیکي :"د هند او چین د پخوانیو کلتوري روابطو په ترڅ کښې د لومړي ځل له پاره هندي پوهانو د چین د ژبې په برخه کښې ژورې څېړنې پیل کړې. دوی د چیني ژبپوهانو په ګډون د چیني ژبې خط (د سنسکریت له الفبا دمخه) ترتیباوه؛ د چیني ژبې د فونیټیکي مشخصاتو څېړنه د چیني عالم ښین یو (۴۴۱-۵۱۳ م) له خوا شوې ده"(۲۴)

په چین کښې قاموس لیکنه له دویمې میلادی پېړۍ وروسته پیل شوې، لکه د نورو ځایونو په څېر د دې کار لامل هم ژبني بدلونونه ول، چې د ادبي ژبې په کلمو کښې رامنځته شوي ول. دغو بدلونونو د چیني ژبې ځینې علایم متروک او د ځینو معناوې بدلې کړې وې، چې له امله یې د چیني ژبې د ادبیاتو د متونو په اساسي مطالعه کښې ستونزې ډېرې شوې وې.

په زړو قاموسونو کښې یو چې مونږ یې پېژنو د شویو ون فرهنګ دی، چې نږدې سل کاله له میلاد وروسته زمانه کښې لیکل شوی دی(۲۵)

"اروپایانو د چیني ژبې د لیکلو سیستم د شپاړسمې پېړۍ له اواخرو وروسته وپېژنده، دغه سیستم بیا د ژبپوهنیزو څېړنو د ځینو جهتونو په ټاکلو کښې ډېره مرسته وکړه، ... د چیني ژبې لومړنی واقعي ګرامر چې د چیني ژبې له پاره په اروپا کښې خپور شو، د رنسانس له دورې په وروسته زمانې پورې اړه لري، یعنې په اتلسمې پېړۍ پورې"(۲۶)

په اوولسمه میلادي پېړۍ کښې پان لي د چین ټولو سیمو ته سفرونه وکړل او د بېلابېلو سیمو ګړدودي توپیرونه یې وڅېړل، پان لي یو تکړه غږپوه او ګړدود پوه و، خو له هغه وروسته په چین کښې داسې کوم کار ونه شو، چې له عام او ټولیز اهمیت څخه برخمن وي(۲۷)

له دې وروسته چیني ژبپوهنه د هرې ورځې په تېرېدو سره پرمختګ کوي او نن سبا د ژبپوهنې په هره برخه کښې ورته کار شوی دی.

ژبپوهنه په عربی نړۍ کښې : د هند، روم او یونان په څېر په عربو کښې هم ژبنی څېړنې لرغونې مخینه لري. عربي د حامي- سامي ژبکورنۍ داسې ژبه وه، چې ډېر ګړدودونه یې درلودل، خو د جزیرة العرب په ادبي بهیرونو کښې د شعر، خطابې او وینا یوه نسبتاً معیاري

عربي ژبه هم کارېدله، چې په جوړښت کښې یې د عربي ژبې ټولو لهجو څه ناڅه ونډه درلوده، یعنې د عربو د ټولو لهجو د ښکلو، روانو، فصیحو او بلغیو کلمو ټولګه وه. د قران کریم نزول پر ډېرو بشري ټولنو، په ځانګړي ډول پر عربي ټولنې او عربي ژبې ډېرې اغېزې درلودې. په قران کښې د عربي ژبې د نورو لهجو کلمې هم شته، خو د قریشو لهجه پرې غالبه ده، ځکه چې حضرت محمد ﷺ قریش و او قران د هغه په لهجه نازل شو، نن سبا نړدې ټول عرب ژبپوهان پر دې اجماع لري، چې د عربي ژبې په ټولو لهجو کښې د قریشو لهجه په فصاحت او بلاغت کښې غوره ده. د عربي ژبې د علومو په تاریخ کښې داسې نخې نشته، چې تر اسلام مخکښې دې د عربي ژبې په صرف، نحو، لغت او بلاغت کښې کوم اثر لیکل شوی وي، خو د قران له نزول وروسته د دې ژبې بېلابېلې برخې تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیول شوې.

په عربي ژبه کښې ژبپوهنیزې څېړنې د «اللغه» او بیا د «فقه اللغه» تر سرلیک لاندې پیل شوې او د وخت په تېرېدو سره په بېلابېلو نورو نومونو هم یادې شوې دي. په عربي ژبه کښې لومړنۍ ژبپوهنیزه هڅه د کلماتو راټولول او تألیف و، عرب پوهانو د عربي ژبې کلمې د ډېرو اصطلاحاتو تر سرلیک لاندې راټولې او تألیف کړي، خو د لغاتو د تألیف تر ټولو لرغونی نوم «اللغه» اصطلاح وه، په علمي مرکزونو او د کلمو د څېړنې په موضوعي کتابونو کښې د «اللغه» کلمه څو پېړۍ په همدغه معنا کارول کېده. "په څلورمه هجري پېړۍ کښې عرب لغوي ابن فارس( م **۳۹۵** هـ) یوه بله اصطلاح رامنځته کړه ... ابن فارس د خپل یوه کتاب نوم *الصاحبی فی فقه اللغه وسنن العرب فی کلامها* کېښود، چې له دې سره د لومړي ځل له پاره په عربي فرهنګ کښې د فقه اللغه اصطلاح د یوه کتاب د نوم په توګه معروفه شوه"(۲۸)

له ابن فارس وروسته دا اصطلاح ثعالبي هم وکاروله، چې خپل کتاب یې *فقه اللغه و سرالعربیه* ونوموه. یوه بله اصطلاح «علم متن اللغه» هم ځینو لیکوالو د ژبنیو کلمو څېړلو ته کارولې، نو پخوانیو عرب لیکوالو او د هغوی په پلیونۍ د شلمې پېړۍ لیکوالو د خپلو څېړنو په سرلیکونو کښې د «اللغه، فقه اللغه، علم اللغه او متن اللغه» کلمې د ژبنیو قاموسونو او کتابونو له پاره کارولې دي.

د شته اسنادو پر بنسټ"په یوه واحد نظم کښې د ژبنیو علومو د ترتیب لومړنۍ ګټورې هڅې فارابي کړې، چې په ژبې پورې پر اړوندو علومو یې«علم اللسان» نوم کېښود، د هغه په

نزد(علم اللسان) له ځوحوزو څخه جوړ دی.... د ابن انباري په نزد د(علوم الادب) اصطلاح ژبنیو علومو، یعنې نحوې، لغت، تصریف، نحوي بحثونو، د نحوې اصولو، عروضو، قافیې، د شعرصنعت او د عربو اخبار او انساب ته کارول کېده، یعنې د هغه په نظر ادبي علوم د ژبنیو او ادبي علومو مجموعې ته ویل کېدل(۲۹)

ددې ترڅنګ د ژبنیو علومو مجموعې ته(علم اللسان، علوم اللسان العربی، علوم الادب یا علوم العربیة) نومونې هم کارول شوې دي. لغویان هغه پوهان ول، چې د عربي ژبې د لغاتو د راټولولو، تألیف او تدوین چارې به یې ترسره کولې. د دې ډلې ځینو مسلمانو پوهانو د عربي ژبې د کلماتو د معنا، تشریحي او توضیحي اثار ولیکل، چې له مسلمانانو سره د قرانکریم په زده کړه او پوهه کښې مرسته وکړي.

" چاچې له نورو ټولو وړاندې د ادب علم د لغاتو د تدوین هڅه کړې او له هر چا یې ډېر روایات راجمع کړل ابو عمرو بن علاء تمیمي و، چې په مکه کښې زېږېدلی و او پر ۱۵۴ کال په کوفه کښې وفات شو"(۳۰)

په عربي ژبه کښې د لغاتو لومړنی او هر اړخیز سیند( قاموس) *العین* نومېږي، چې خلیل بن احمد (۷۹۱م وفات) لیکلی دی. دا سیند د عربي ژبې د الفبا په ترتیب چې له الف څخه پیلېږي، نه دی لیکل شوی، بلکې د(ع) په توري پیل شوی، لکه : ع- ح-ه- خ-غ- ق-ک- ج – ش- ص- ض- س- ر - ط- د- ث- ت- ظ- ذ- ث- ز- ل- ن- ف- م- و- ا-ی. لبناني لیکوال جرجي زیدان لیکي:"لکه خلیل چې دا ترتیب او د حروفو ډلبندي له هندیانو څخه زده کړې وي، ځکه هغوی هم د سنسکریت کلمې له حلقي حروفو څخه پیل کړي او په هغو حروفو یې پای ته رسولي، چې په شونډو ختمېږي"(۳۱)

له نورو سیندونو سره د *العین* بنسټیز توپیر دادی، چې په پخوانیو سیندونو کښې به یوازې په قران او د عربو په بدوي اشعارو کښې شته کلمات او اصطلاحات ول، خو خلیل د عربي ژبې ټولې کلمې توضیح کړې دي. له العین وروسته"د ابوالعباس المبرد *الکامل*، د ابن درید *الجمهره*، د الازهري *تهذیب*، د صاحب بن عباد *المحیط*، د ابولحسین احمد بن فارس رازي *المجمل*، د جوهري *الصحاح*، د زمخشري *اساس البلاغه*، د قزاز *الجامع فی اللغه* او د تیاني *الموعب* نور هغه آثار دي، چې د عربي ژبې د لغاتو په اړه لیکل شوي دي"(۳۲)

وروسته یوه افریقایي عالم ابن منظور(۱۳۱۱م) د*لسان العرب* په نامه سیند ولیکه، خو د دې سیند اصلي سرچینې د الازهري *تهذیب اللغه*، د جوهري *الصحاح* او ځینې نور سیندونه وو.

بیا الفیروز ابادي (۱۴۱۴م) په یوه روایت په شپېتو او په بل روایت په سلو ټوکونو کښې د *القاموس المحیط* په نامه یو ستر سیند ولیکه. په عربي ژبه کښې د لغاتو د سیند له پاره "د(قاموس) اصطلاح د لومړي ځل له پاره د الفیروز ابادي له خوا وضع شوه"(۳۳)

د قران په زده کړه کښې لومړنی کار د الفاظو تلفظ بیا وروسته یې پرمعنا پوهېدل وي. د قرانکریم د معنا او محتوا پېژندنې له پاره غوره لار د اعرابو زده کړه ده او دا کار د نحوې د علم په مرسته کېږي، ځکه چې د نحوې په مرسته مبتدا او خبر، فاعل او مفعول، صفت او موصوف، تعجب او استفهام او نور پېژندل کېږي. د همدغې موخې له پاره ځینو عرب او ناعرب مسلمانو پوهانو د عربي ژبې صرف او نحو ولیکله، چې له مسلمانانو سره د قرانکریم په لوست او پوهه کښې مرسته وکړي، دغه پوهان بیا د عربي ژبې د ادبیاتو په تاریخ کښې د نحویانو په نامه یاد شول.

"دعربي ژبې د ژبنیو مطالعاتو د پېدا ښت مسله د یوې افسانې په څېر ده، ځینې روایات وایي د لومړنیو ګرامري مطالعاتو له پاره د نحوې کلمه حضرت علي ﷺ وضع کړې، همدا راز ویل کېږي، چې لومړنی نحوه پېژندونکی د حضرت علي ﷺ شاګرد ابوالاسود دوئلي دی"(۳۴)

خو "په عربي ژبه کښې د نحوې اصطلاح په دویمه هجري پېړۍ کښې دود شوې ده"(۳۵)

یوه بله نومونه، چې د جملې د جوړښت بحث پکښې کېږي (العربیه) یا (علم العربیه) ده، دا دوه نومونې دځلورمې هجري پېړۍ په لیکنو کښې موندل شوي، ابن ندیم او ابن فارس د (العربیه) اصطلاح د نحوې په معنا کارولې ده.ابوحیان نحوي لومړنی کس دی، چې د ( عربي ژبې علوم) اصطلاح یې ژبنیو علومو ته وکاروله او ابن خلدون ددې اصطلاح په کارولو کښې د هغه پیروي وکړه. د ابوحیان په نزد د لغاتو علم، دتصریف علم او نحوه دعربي ژبې علوم دي. د لغاتو علم د کلام د کلمو معنا، د تصریف علم له جوړښت وړاندې د کلام دکلمو احکام څېړي، خو د نحوې علم له جوړښت څخه مخکښې د کلام د کلمو احکامو ته وایي. د لومړۍ هجري پېړۍ تر دویمې نیمایي پورې مسلمانانو قرانکریم پرته له حرکاتو او ټکو لوسته او لیکه، یعنې قرانکریم چې په کوم لیک لیکل کېده هغه داسې لیک و، چې واول یې نه درلودل، یوازې بېواک توري لیکل کېدل، خو:" لومړنی کس چې په عربي لیکلو کښې یې حرکات دود کړل ابوالاسود دوئلي و... نوموړي د ټکو (نقطو) په ایښودلو عربي کلماتو ته حرکات وټاکل. له همدغه امله ځینو تاریخپوهانو دا ګومان کړی، چې ابوالاسود ټکي اختراع کړي دي. په داسې

حال کښې چې هغه دا کار له یو بل څخه د اسم، فعل او حرف د تشخیص له پاره وکړ، نه ددې لپاه چې د ټکو په واسطه، بې، تې، جیم او حې له یو بل سره توپیر کړي"(۳۶)

د ټکو په وسیله د حرکاتو ټاکلو بیا هم د قرانکریم په قرائت کښې ستونزې راولاړولې، ځکه ناعرب مسلمانانو نه شو کولای په ښه کښې سره ورته حروف، لکه (ج، ح، س، ش، ب، ت) وپېژني، نو د دې ستونزې د حل له پاره یې حروفو ته ټکي ورکړل، خو له دې کار سره د حرکاتو او اعراب ټکي د حروفو له ټکو سره ګډېدل، نو بیا خلیل بن احمد ( ۷۸۲م/ ۱۷۰ هـ) حرکات او اعراب په هغه ډول چې نن سبا معمول دي اختراع کړل، یعنې پېښن یې د واو په بڼه، فتحه یې د الف او کسره یې د یا او شد یې د ش په بڼه او دې ورته نور حرکات او اعراب یې وټاکل.

"تاریخپوهان ټول پر دې اتفاق لري، چې ابوالاسود دوئلي د عربي ژبې د نحوې د علم بنسټ کېښود. له هغه وروسته د کوفې او بصرې خلکو د ابوالاسود کار تعقیب کړ، لومړنی سړی چې له ابوالاسود څخه یې د نحوې علم زده او د هغې د بشپړولو هڅه یې وکړه عنبسة بن معدان مهري و، بیا میمون اقرن او عبدالله حضرمي، عیسی بن عمر، خلیل بن احمد (دعروضو او لغاتو امام) او سیبویه (د نحوې د علم امام) په ترتیب د نحوې علم یو له بل څخه اقتباس او بشپړ کړ، چې ورسره د نحوې علم د طبیعي تکامل له قانون سره سم پرمختګ وکړ او په اړه یې مفصل کتابونه ولیکل شول، خو سیبویه(۱۸۰ مړ) هغه بشپړ کړ او خپل مشهور کتاب یې پکښې ولیکه"(۳۷)

عربو ته د نورو ملتونوکلتور په ځانګړي ډول د یونان له ځینو مرکزونو څخه، چې مهم یې سکندریه و، لار پیدا کړه. سکندریه د یوناني کلتور او فکر ځاے و. بل مرکز د فرات په ساحل کښې د نصیبن ښوونځی و، دا ښار د اپلاتونیانو د نوې فلسفې د غوړېدو مرکز و او دربیم د رها ښوونځی، چې سریانیانو اداره کاوه او له کلداني پوهې سره د یوناني پوهې د امتزاج مرکز و(۳۸)

خو عربو ته د نورو قامونو کلتورونه د راشه درشې، د آثارو د ژباړې او ځینو نورو لارو څخه هم ننوتل. د امویانو په دور کښې په عربو کښې دیني، تاریخي، ژبني او ادبي علوم، فلسفه، کیمیا او نجوم دود شول. ډاکټر ګوستاولوبون لیکي:"د ارسطو، تالس، آمپ دوکل، هرقل، سقراط او اپي کور او د سکندریې د ټولو فیلسوفانو کتابونه عربي ته وژباړل شول او مسلمانانو په ټولو هغو علومو کښې، چې مسایل یې د عمل او تجربې له مخې د تصدیق وړ وو، پرمختګ وکړ، ان تر دې چې پر خپلو استادانو یې هم غلبه حاصل کړه"(۳۹)

د عباسیانو دوره د عربو په تاریخ کښې د علم، ادب او هنر یوه روښانه دوره ګڼل کېږي، ځکه چې په دغه دور کښې په بېلابېلو علومو کښې ډېر آثار ولیکل شول ګوستاولبون وایي:"د

عباسي خلفاوو د واکمنۍ په اوايلو کښې مسلمانانو په تمدن کښې ځرګند پرمختګ وکړ، د يونان علوم يې راواخيستل او د يوه نوي او روښانه تمدن بنسټ يې کېښود، چې په ادبياتو، علومو او فنونو کښې د کمال پوړۍ ته ورسېدل"(۴۰)

د ابوالاسودالدوئلي له لوري د نحوي د قواعدو له برابرولوسره د عربي ژبې د نحويانو ترمنځ اختلافات رامنځته شول، دغه اختلاف بالاخره په عربي ژبه کښې د بصرې او کوفې د ژبپوهنيزو ښوونځيو د بنسټ لامل وګرځېد. د بصرې په ښوونځي کښې د ارسطو نفوذ محسوس و او دا پر عالم اسلام د يوناني علم او فلسفې د زده کړې اغېزې وې او د بصرې د ښوونځي پيروانو پر قياس او عقل باندې باور درلود.

خو "د کوفې د ښوونځي د پيروانو نظريې د تصادفي او اتفاقي نظريو مجموعه وه، هغوی پر هغو رنګارنګيو او تنوع ټينګار کاوه، چې عملاً په ژبه کښې پېدا کېدل، لکه د يوې ژبې په ګړدودونو کښې چې ډولونه موجود وي او هغه اختلافونه چې په متونو کښې پېدا کېږي"(۴۱)

بصرې د عباسيانو د واکمنۍ په پېر کښې په سوداګرۍ او علومو کښې ځانګړی ځاے درلود، د مطالعې او تفکر مرکز وګرځېد، ډېر ستر ستر عالمان پکښې وزېږېدل او بل دا چې په بصره کښې خالص فصيح عربان مېشت ول، له همدغه امله په فصاحت مشهور و.

د عربي ژبې په نحو کښې تر ټولو پخوانی اثر د سېبويه *الکتاب* ګڼل کېږي، خو تر سېبويه وړاندې هم د ځينو نحويانو يادونه شوې ده، له هغې ډلې "عبدالله بن اسحاق حضرمي (م ۱۱۷ هـ.ق)، عيسی بن عمر ثقفي (م۱۴۹ هـ.ق)، ابو عمر بن علاء(م ۱۵۴ هـ.ق)، خليل بن احمد(م ۱۷۴ هـ.ق) او يونس بن حبيب ( م ۱۸۳ هـ.ق) دي، چې عبدالله بن اسحاق حضرمي پکښې تر ټولو پخوانی دی. د *طبقات الشعراء* ليکوال ابن سلام، حضرمي لومړنی کس ګڼي چې په نحويانو کښې يې د قياس لار پرانيسته او د علتونو شرحې ته يې پاملرنه وکړه، خو ډېر مهم پکښې د سيبويه استاد خليل بن احمد و، چې د سيبويه پر افکارو يې ډېره اغېزه درلوده"(۴۲)

د بصرې ژبپوهنيز ښوونځي ډېر غړي درلودل، خو مشهور يې عبدالرحمان خليل بن احمدبن عمرو بن تميم فراهيدي الازدي (۱۰۰-۱۷۰ هـ) و، چې په عربي ژبه کښې د ادب او لغاتو د علم سرلاری او د عروضو د علم بنسټګر بلل کېږي. ډېر آثار يې ليکلي، خو تر ټولو اوځار اثر يې د عربي ژبې په لغاتو کښې و، چې *العين* نومېده او وړاندې يې يادونه وشوه. ورپسې ابو بشر عمرو بن عثمان بن قنبر، چې په سيبويه (۷۹۲م/ ۱۸۰ هـ)، مشهور دی په پارس کښې زېږېدلی و، په بصره کښې يې له خليل بن احمد څخه زده کړه وکړه او بيايې په

عربي نحو کښې د *الکتاب* په نامه اثر ولیکه. د عربي ادبیاتو په تاریخ کښې سیبویه ته د بصرې د نحویانو شیخ ویل کېږي. او د سیبویه"*الکتاب* تر اتمې هجري پېړۍ پورې د نحوي څېړنو اساس و"(۴۳)

کوفه له فارس سره نږدې اباد شوی ښار و، ډېر اوسېدونکي یې هم یمني عربان ول، چې فصاحت یې کمزوری او عربي ژبه یې فصیحه نه وه، د عربو لیکوالو په اصطلاح عربي ژبه یې فاسده شوې وه. د کوفې په ټول نحوي ښوونځي کښې د سیبویه د *الکتاب* او د مبرد د *المقتضب* په څېر اثر نشته، خو د ژبې او نحوي مسایلو په اړه د کوفې د نحوي ښوونځي د غړیو ژبپوهنیزې نظریې د هغوی په هغو آثارو کښې داسې راغلي، چې د نورو مسایلو ترڅنګ پکښې د جملې، نحوې او ژبنیو مسایلو بحثونه هم راغلي دي. په کتابونو کښې د کوفې د ښوونځي د ډېرو ژبپوهانو او نحویانو نومونه راغلي، چې څو تنه سرلاري یې په دې ډول دي: کسائي علي بن حمزة الاسدي ( م ۱۹۷ هـ.ق) د کوفې د ښوونځي یو اوڅار نحوي، چې د سیبویه معاصر و او په ژبنیو او نحوي مسایلو کښې یې اختلافات هم سره درلول. کسایي د عربي ژبې د ادبیاتو په تاریخ کښې د کوفې د نحویانو د شیخ په نوم هم یاد شوی دی. الفراء (م ۲۰۷هـ.ق) او ابوالعباس ثعلب (م ۲۹۱ هـ.ق) د کوفې د ښوونځي نور اوڅار نحویانو تېر شوي دي. بصره او کوفه د څه وخت له پاره د علم او ادب مرکزونه وو، خو کله چې بغداد جوړ شو، نو د علومو مرکز بغداد شو.

ژبپوهنه په منځنیو پېړیو (له ۱۰۰۰ زڅخه تر ۱۴۰۰ ز پورې) کښې

د اروپا د تاریخ یوې برخې ته منځنۍ پېړۍ وایي، چې د دوو سترو او مهمو پېښو په منځ کښې واقع شوې دي، یو د روم امپراتورۍ ماتې او زوال، بل د فرهنګي تحولاتو او پېښو د رامنځته کېدو سلسله، چې رنانس یې بولي، یعنې د پنځمې پېړۍ د وروستیو کلونو له حدودو څخه تر پنځلسمې میلادي پېړۍ پورې وخت ته منځنۍ پېړۍ وایي."په منځنیو پېړیو کښې د ژبې د زده کړې مطالعه محدوده او ځانګړې وه، اووه فنون (The Seven liberal art) پکښې شامل ول، چې په درې ګونو او څلورګونو وېشل کېدل؛ لومړۍ برخه فنون د ژبې ګرامر، منطق او سخن سنجي، چې منطق یې هغه مهال دیالکتیک باله، دا درې فنون یې درې ګوني بلل، موسیقي، حساب، هندسه او ستوري پېژندنه دویمه ډله فنون یادېدل، دا یې څلورګوني بلل"(۴۴)

د منځنيو پېړيو له پيل څخه د پنځو پېړيو په شاوخوا کښې د ژبې مطالعه يوازې په لاتين ژبې پوره محدوده وه. لاتين هغه مهال د اشرافو او د مسيحيت بين المللي ژبه شمېرل کېده او يوازينۍ ژبه وه، چې توصيف يې موجود و. د لاتين تر څنګ يوناني اوعبري ژبې هم له همدغو شرايطو څخه برخمنې وې او دا درې ژبې د الهي متونو (مقدسې ژبې) شمېرل کېدې.

رنانس او ژبپوهنه ( ۱۵۰۰- ۱۸۰۰ز)

په شپاړلسمه پېړۍ کښې په اروپا کښې د رنانس دورې پر ژبنيو څېړنو هم د پام وړ اغېزې درلودې. د ژبپوهنې په برخه کښې بېلابېل عوامل ددې باعث شول، چې نوې نظريې رامنځته شي، لکه له يوه اړخه د لاتين ژبې څېړنې، همدارنګه په لرغونې دوره کښې له کليسا جلا د يوناني ژبې ادبياتو ته د کتو له امله د اروپا د تمدنونو د ژبو په توګه له سره څېړل پيل شول، له همدغه امله د روم او يونان د ادبياتو لرغونی تاريخ په پوهنتونونو کښې د زده کړې د اصلي برخې په توګه د پام وړ وګرځېد. له بل اړخه اروپايي ژبې چې تازه له لاتين څخه انشعاب شوې وې د اروپايي هېوادونو د ژونديو او محلي ژبو په توګه په منظم ډول وڅېړل شوې. ددې ترڅنګ عربي او عبري هم چې د مسلمانانو او يهودانو ديني ژبې وې، د اروپايي څېړونکو د پام وړ وګرځېدې. په شپاړسمه ميلادي پېړۍ کښې د اروپايي ژبو لومړنی ګرامر خپور شو او د دې پېړۍ تر پای پورې د ټولو اروپايي ژبو له پاره ګرامرونه وليکل شو، همدا کار د ژبې د پوهې د پراخېدو لامل شو او د اروپايي ژبو د ګرامرونو له تدوين او خپرېدو سره د بهرنيو ژبو زده کړې او څېړنې ته هم پام واوښت. "د شپاړسمې پېړۍ په پای کښې اروپايان د چينايي ژبې د ليک له نظام سره هم اشنا شول، دې کار هم د ژبنيو څېړنو د پراختيا په برخه کښې ډېره اغېزه درلوده، يعنې اروپايي پوهان پر عبري او عربي سربېره د ځينو داسې ژبو له شتون څخه خبر شول، چې له لغوي نظام، ګرامري او لغوي اړخه له هغو ژبو سره چې هغوی ورسره تر هغه مهال اشنا ول، ډېر توپير درلود، همدغه له بېلابېلو ژبنيو نظامونو سره اشنايي د دې لامل شوه، چې هغوی د ژبو له ډولونو سره اشنا شول او په نتيجه کښې يې د ژبو د څېړنې او دقيق توصيف له پاره ډېر کار وشو"(۴۵)

د رنسانس دورې په ګرامر ليکونکو کښې پتروس راموس په ژبپوهنه کښې د ساختګرايي په برخه کښې سرلارې شمېرل کېږي. هغه د ژبې د ګرامر د څېړنې په طريقه او تدوين کښې عمده بدلونونه رامنځته کړل. راموس د يوناني ، لاتين او فرانسوي ژبې له پاره ګرامر وليکه(۴۲)

ژبپوهنه په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کښې : پر ۱۷۸۲ ميلادي کال د ختيځې هندي کمپنۍ قاضي سر ويليام جونز (۱۷۲۴-۱۷۹۲ م) د هندوستان په کلکته کښې د اسيايي مطالعاتو په سلطنتي انجمن کښې د يوې بيانيې په ترځ کښې د سنسکرېټ، لاتين او يوناني ژبو پرخپلو ی ټينګار وکړ او د لومړي ځل له پاره يې په صراحت سره ثابته کړه، چې دا ژبې بايد له يوې مور ژبې څخه اشتقاق شوې وي. په اصل کښې"د اسيايي او اروپايي ژبو تر منځ د خپلوۍ د کشف موضوع شپاړسمې ميلادي پېړۍ ته ورګرځي، د دغې پېړۍ په اواخروکښې فيليپوساستي په خپل هغه ليک کښې چې کورنۍ ته يې له هند څخه ايټاليا ته استولی و، د سنسکرېټ او ايټالوي ژبې ځينې ورته والي ته اشاره کړې وه. له هغه وروسته شولتس الماني هم د سنسکرېټ او عليا الماني ترمنځ د کلمو ورته والي ته اشاره کړې وه، خو له دغو مشاهداتو څخه کومه نتيجه نه تر لاسه کېده، نوځکه ددې حياتي نکتې کشف د سرويليام جونز په نوم ثبت شو(۴۷)

په اتلسمه پېړۍ کښې د ژبپوهنې بله مهمه موضوع چې اروپايي څېړونکي ورسره اشنا شول سنسکرېټ ژبه او د هغې ګرامري توصيفونه ول. د اروپايانو له لوري د سنسکرېټ څېړنې د ژپوهنې د علم پر پراختيا دوه ډوله اغېز درلود. له يوه اړخه له اروپايي ژبو سره د سنسکرېټ پرتلې د تاريخي تطبيقي ژبپوهنې د لومړنې پېدايښت او په منظم ډول د تاريخي تطبيقي ژبپوهنې د رامنځته کېدو لامل شوه، له بله اړخه پوهان د سنسکرېټ ژبې د ګرامر د توصيف په برخه کښې په لرغوني هند کښې د يوه خپلواک دود او د ژبپوهنې له پراخ تحقيق سره اشنا شول.

د لرغوني هند ژبپوهنې د توصيفي ژبپوهنې اوسنۍ ټولې برخې، چې غږپوهه، لغتپوهنه، ګرامر او معنا پېژندنه پکښې شامله وه درلودې، له همدغه امله اروپايي پوهان په هند کښې د ژبې له يوې عظيمې پوهې سره اشنا شول چې له شک پرته د ژبې د څېړنې د روښونو پر پراختيا باندې يې ژورې او تلپاتې اغېزې درلودې(۴۸)

نولسمه پېړۍ د نړيوالتوب په برخه کښې د چټکو حوادثو د پېښېدو شاهده وه. په فکري لحاظ هم دا پېړۍ د نويو شرايطو د رامنځته کېدو شاهده وه، په اروپا او امريکا کښې په دې

پېړۍ کښې نوي پوهنتونونه جوړ شول، د عمومي زده کړو لمن پراخه او هر اړخیزه شوه، لیک لوست د لومړي ځل له پاره د ټولو له پاره مطرح شو او ډېر نور علمي کارونه او پرمختګونه هم رامنځته شول. د ژبپوهنې په برخه کښې به همدا کافي وي، چې وواېو د ډېرو هغو پوهانو نومونه چې کتابونه يې په همدې پېړۍ کښې لیکلي، ددې رشتې د محصلینو ترمنځ مخکښې له هغې پېژندل شوي، چې دوی خپله مطالعه ددې علم د تاریخ په اړه پیل کړه، ګریم، ویتني، مایر- لوپکه، ماکس میولر، بروګمان، سویت د نولسمې پېړۍ ځینې پوهان ول، چې په دې برخه کښې يې کار کړی دی. نولسمه پېړۍ د تاریخي او تطبیقي ژبپوهنې د څېړنې د دورې په توګه یادېږي، خو دا په دې معنا نه ده، چې له دې وړاندې تاریخي څېړنې په ځانګړي ډول دا ندواروپايي ژبو په برخه کښې نه دي ترسره شوي او یا په دې پېړۍ کښې د ژبپوهنې نورې برخې نه دي څېړل شوي، بلکې دا په دې معنا ده، چې له نولسمې میلادي پېړۍ وړاندې د ژبو په اړه تاریخي څېړنې خورې ورې وې، خو په دې پېړۍ کښې د ژبو په تاریخي څېړنو کښې داسې نظریې رامنځته شوې، چې د پخوانیو پېړیو پوهانو ته نا پېژندل شوې وې.

"له اوولسمې پېړۍ راهیسې په ژبپوهنه کښې د څېړنې اصلي معیار، د مختلفو ژبو ترمنځ ( د تاریخي پیوستون) مسله وه، چې تر ډېر وخت پورې يې دوام وکړ او دومره جاذبه يې پیدا کړه، چې ژبپوهنه يې په بله لاره نه پرېښوده، داسې ویل کېږي ډېرې هغه ژبې چې تر هغه وخته پورې يې ترمنځ کوم ارتباط نه لیدل کېده، مرتبطې وبلل شوې او تاریخي پیوستون يې په دقیقه توګه وستایل شو، که به د کلماتو په لفظ او معنا کښې د بدلون تصور پیدا شو، هغه به يې له لرغونې ژبې څخه مشتق ګڼله، د مثال په ډول داسې ویل کېدل چې د منظمو غږیزو بدلونونو له لارې د انګلیسي(هنډرېډ) د لاتین (سنتم) او د روسي (ستو) چې درې واړه د سلومعنا لري د یوه واحد اصل څخه مشتق شوي دي"(۴۹)

په ټوله نولسمه میلادي پېړۍ کښې د هندواروپايي ژبو تاریخي او تطبیقي څېړنه د اروپا د ژبپوهنې اصلي برخه او په عین حال کښې کامیابه څېړنه وه، تطبیقي ژبپوهانو یو په بل پسې په سخت کوښښ د ژبو پرتلیزې څېړنې وکړې. د نولسمې پېړۍ په پیل کښې د ژبپوهنې د علم په برخه کښې فرانځ بوپ، راسک، ګریم او هومبولت څلور مشهور او پېژندل شوي څېړونکي ول او بوپ، راسک او ګریم د تاریخي ژبپوهنې بنسټګر ګڼل کېږي. د هندواروپايي ژبو د روښانه پرتلې موضوع د الماني ژبپوهاند فرانځ بوپ د رسالې له خپرېدو سره پیل شوه، چې پر ۱۸۱۲ میلادي کال يې په سنسکریت، یوناني، لاتین، پارسي او جرمني کښې خپره کړې وه.

تقریبا د جونز له مقالې څخه یې د ېرش کاله وروسته، په یادو ژبو کښې خپلوي څرګنده کړه، بیا ډنمارکي ژبپوه راسموس.ک. رسک پر دې سربېره چې د لرغوني ناروېژي او لرغوني انګلیسي له پاره یې منظم د ژبې ګرامر ولیکه، پر ۱۸۱۸ میلادي کال یې د جرمني ژبو د لغاتو تر منځ تقارنونه د نورو اندواروپایي ژبو له کلمو سره مشخص کړل.

په راسک پسې وروسته الماني ژبپوه ګریم پر ۱۸۱۹م کال د جرمني ژبو تطبیقي ګرامر( د ګوتي، سکاندیناوي، انګلیسي، فریزلنډي، هالنډي او الماني ) له پاره ولیکه. په دغه کتاب کښې یې د سنسکرېټ، یوناني، لاتین او جرمني ژبو تر منځ منظم موجود غږیز تقارنونه څرګند کړل. همدغه د تقارن موجود نظام په پورتنیو ژبو کښې وروسته د ګریم د قانون په نوم یاد شو. د ګریم قانون په اصل کښې د غږیزو بدلونونو لومړنی قانون و، چې پر بنسټ یې د اندو- اروپایي ژبو او د ځینو ژبنیو کورنیو د ژبو تر منځ خپلوي مشخصه شوه.

په ګریم پسې وروسته نورو پوهانو د ریښه پېژندنې په اړه څېړنې وکړې، چې له دې لارې د تطبیقي ژبو ډېر ګرامرونه ولیکل شول. "اګوست فریدریخ پوت، اګوست شلایخر، کارل بروګمان او برتولددلبروک پېژندل شوي تطبیقي ګرامر لیکونکي ول او وروستنی څېړونکی بروګمان او دلبروک یو کتاب ولیکه د هندو اروپایي ژبو د تطبیقي ګرامر خلاصه ( outline of the comparative grammar of the Indo-European language)، همدارنګه د ګریم د رسالې په طریقه د اندو- اروپایي کورنۍ د بېلابېلو څانګو له پاره د ژبو تطبیقي ګرامرونه تدوین شول. لکه فریدریخ د( رومیایي ژبو ګرامر) کتاب، ولیکه او په هغه کښې یې رومیایي ژبې په دقت سره څېړلې وې، همدارنګه ځینو نورو څېړونکو د سلتي او سلاوي ژبو له پاره هم تطبیقي ګرامرونه ولیکل"( ۵۰).

ژبپوهنه په ( ۲۰ مه پېړۍکښې) : که نولسمه میلادي پېړۍ د تاریخي او تطبیقي ژبپوهنې په برخه کښې زرینه دوره وه، نو شلمه پېړۍ باید په ځانګړې توګه د توصیفي ژبپوهنې عصر وپېژندل شي. د شلمې میلادي پېړۍ له پیل څخه د ژبنیو څېړنو په برخه کښې نوې نظریې رامنځته شوې، له دې وړاندې له یوه لوري ژبه په دودیزو طریقو سره څېړل کېده، چې له ډېرو لرغونو زمانو څخه دود وه او تر ډېره د یوناني او لاتیني ژبو د ګرامرونو په اقتباس ولاړه وه. له بل اړخه په ځانګړې ډول په نولسمه میلادي پېړۍ کښې د ژبو څېړنه د تاریخي او تطبیقي روشونو پر بنسټ معمول شوې وې، خو د شلمې پېړۍ په پیل کښې فردینان دو سوسور( ۱۸۵۷-۱۹۱۳) سویسي ژبپوه په نویو نظریو سره د ژبې د علمي څېړنې بنسټ کېښود. د سوسور نظریې دومره ژورې او بنسټیزې وې، چې د ژبو

په څېړنه کښې يې ستر بدلون رامنځته کړ، چې له امله يې پورته دواړه يادې طريقې لږو ډېر هېرې شوې او د ژبې د توصيف په برخه کښې نورې د پرمختګ زمينې هم برابرې شوې. په دې پېړۍ کښې په اروپا کښې د ژبنيو څېړنو په پايله کښې ځينې ژبپوهنيز ښوونځي رامنځته شول، چې د ژبپوهنې په تاريخ کښې خپل ځانګړی ځای لري.

"د پراګ د ژبپوهنيز ښوونځي د بنسټ ږدونکی آنتوني مارتي (۱۸۴۷-۱۹۱۴) ته رسېږي. مارتي په پراګ کښې د فلسفې استاد و او د برنتانو له پيروانو څخه وو. مارتي ژبپوه نه و، خو د فيلسوف په توګه يې د مبتدا او خبر په بحث کښې، چې په شلمه پېړۍ کښې روان و، ګډون کاوه" (۵۱)

انتوني مارتي هېڅکله هم په عملي ډول ژبپوهنيز تحليل ونکړ، هر څه يې چې وړاندې کړي، عام فلسفي استدلال و، خو د انتوني مارتي نظريې، چکي څېړونکي او د پراګ په پوهنتون کښې د انګليسي ژبې استاد ويليم ماتسيوس (۱۸۸۲-۱۹۴۵) واخيستې او پراختيا يې ورکړه. پر ۱۹۲۲ ميلادي کال ويليم ماتسيوس او څو تنو نورو څېړونکو د پراګ د ژبپوهنې حلقه ( Prague Linguistic Circle) رامنځته کړه. د پراګ ژبپوهنيز ښوونځي د خپل فعاليت په لومړنيو کلونو کښې د خپلو څېړنيزو پروګرامونو په لړ کښې په دريو بين المللي غونډو کښې د يوه غوره او معتبر بنسټ په توګه نوم وويست. هغه غونډې د ژبپوهانو لومړنۍ غونډه، پر ۱۹۲۸م کال په هيګ کښې ترسره شوه، د سلاوونيک ژبو د تاريخي لغتپوهانو غونډه، پر ۱۹۲۹م کال په پراګ او د واج شناسۍ بين المللي غونډه چې پر ۱۹۳۰م کال په پراګ کښې ترسره شوه، وې.

په اروپا کښې بل ژبپوهنيز ښوونځی د کوپنهاګن ښوونځی و، چې د پراګ تر ژبپوهنيز ښوونځي محدود و او تر ډېره بريده د لويي ترول يلمسلف (۱۹۲۵-۱۹۸۸) پر مټ رهبري کېده. هغه له هولګرپدرسن څخه تاريخي او تطبيقي ژبپوهنه زده کړه او پر ۱۹۳۷ کال يې وروسته له پدرسن څخه په کوپنهاګن پوهنتون کښې د تاريخي او تطبيقي ژبپوهنې کرسۍ تر لاسه کړه. له راسموس ويګوبروندال (۱۸۲۷-۱۹۴۲) سره يې پر ۱۹۳۱ ميلادي کال د کوپنهاګن د ژبپوهنې حلقه ( Cercal Linguistique de Copenhagen) بنسټ کېښود.

د اروپا د مهمو هېوادونو پر تله په برتانيا کښې تر ۱۹۰۰ميلادي پورې ژبنۍ څېړنې پرمخ نه وې تللې. (Lexicography) هغه برخه وه، چې برتانيا پکښې وړاندې وه، په دې برخه کښې د پام وړ کارونه يا ترسره شوي ول او يا ترسره کېدل. غږپوهه بله هغه موضوع وه، چې برتانيا پکښې لوړې پوړۍ ته رسېدلې وه. تطبيقي فقه اللغه (Comparative Philology) پکښې برعکس ډېره کمزورې وه، که څه هم په دې برخه کښې لومړنی اغېزمن ګام سرويليام

جونز انګلیسي پر ۱۷۸۲م کال واخیست. په برتانیا کښې هم لکه د فرانسي، بلژیک او هالنډ په څېر داسې دود و، چې په مستعمراتو کښې اداري کارمندانو، نظامي وګړو او مذهبي مبلغینو د هغو ژبو له پاره چې د هماغو سیمو وګړو پرې خبر کولې د ژبې د زده کړې ګرامرونه او د لغاتو فرهنګونه لیکل او دا کار له دویمې نړیوالې جګړې وروسته هم په عملي ډول جاري و، خو برتانیې له نورو هېوادونو څخه په دې برخه کښې دا امتیاز درلود، چې همدغه دودیز فني فعالیتونه یې ډېر د پوهنتوني نظام او نصاب برخه وګرځول او پوهنتوني حیثیت یې ورته ورکړ، چې د دې کار په نتیجه کښې په لندن کښې د اسیایي او افریقایي مطالعاتو ( School of Oriental Studies and African Studies) ښوونځی جوړ شو، چې د ختیځې نړۍ د وګړو د ژبو او فرهنګ د مطالعې یو غوره موسسه شمېرل کېږي.

"هغه شخصیت، چې په شلمه پېړۍ کښې یې له برتانیایي ژبپوهنې سره نېغ په نېغه اړیکې درلودې دانیل جونز ( ۱۸۸۱-۱۹۲۷) و. هغه له ژبنیو مطالعاتوسره لېوالتیا درلوده. په ۱۹۰۵ کښې یې له پال پاسي فرانسوي څخه د غږپوهې زده کړې پیل کړې او په ۱۹۰۷م کال کښې د نیم وخت له پاره د لندن په یونیورسیټي کالج (University College London) کښې وګومارل شو، چې غږپوهه تدریس کړي، ورسته په همدغه موسسه کښې استاد شو. همدغلته و، چې پر ۱۹۱۲ کال یې اجازه تر لاسه کړه، چې د برتانیې د غږپوهنې لومړنۍ ازمایشګاه یې ایجاد کړه"(۵۲)

"جان روپرت فرث (۱۸۹۰-۱۹۲۰) کښې د لیدز په پوهنتون کښې د تاریخ په رشته کښې زده کړې وکړې، د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کښې پوځ کښې شامل شو او افغانستان او افریقا او هندوستان ته ولاړ. همالته و، چې د سیمه ییزو ژبو له مطالعې سره یې مینه پیدا شوه. له ۱۹۲۰ څخه تر ۱۹۲۸ پورې په لاهور کښې دا د انګلیسي ژبې استاد و. له هغه ځایه د لندن یونیورسیټي کالج لندن ته ولاړ، چې د دانیل جونز تر نظر لاندې چې هغه د غږپوهې په برخه کښې ارشد مدرس و تدریس وکړي، له هغه ځایه هم پر ۱۹۳۸ م کال د اسیایي او افریقایي مطالعاتو ښوونځي ته منتقل شو، دلته یې د عمومي ژبپوهنې کرسي چې نوې ایجاد شوې په ۱۹۴۴ م کال ده ته وسپارل شوه"(۵۳)

ژبپوهنه په امریکا کښې: په امریکا کښې ژبپوهنیزې څېړنې د امریکا له خپلواکۍ سره سمې پیل شوې دي. "په امریکا کښې لومړنی ځاے چې ژبپوهنیز فعالیتونه پکښې پیل شول د امریکا فلسفي ټولنه (American Philosophical Society) وه، چې پر ۱۷۲۹ میلادي کال تاسیس شوه. په پیل کښې ژبپوهنې ملي رنګ درلود او تر ډېره څېړنې د امریکا د سورپوستو

پر ژبو متمرکزې وې. د هغو کسانو له ډلې چې د امریکا د سورپوستو له ژبو او په کلي ډول یې له ژبې سره عملي مینه څرګنده کړه، بنجامین فرانکلین ( ۱۷۰۲-۱۷۹۰) او دویم کس توماس جفرسون (۱۷۲۳-۱۸۲۲) و"(۵۴)

د امریکا فلسفي ټولنې د تاریخي او ادبي ټولنې ( Historical and Literary Committee) له تاسیس سره د ژبپوهنې رشته په رسمیت وپېژنده، دې کومېټې دوه موخې درلودې، د تاریخي اسنادو راجمع کول او د هغو لاسکښلو لیکنو راټولول چې د سور پوستو د ژبو ثبت ته ځانګړې شوې وې. په امریکا کښې له همدې دورې وروسته لومړنی نظري او حرفه یي ژبپوه ویلیام دوایت ویتني (۱۸۲۷-۱۸۹۴) پیدا شو.

"وړپسې فرانتس بواز (۱۸۵۸-۱۹۴۲) د المان د وستفالیا ایالت اوسېدونکی و، چې په ژبپوهنه کښې یې مهم اثر د امریکا د سورپوستانو د ژبو لارښود ( Handbook of American Indian Languages) اثر باندې سریزه وه، چې پخپله هغه پر ۱۹۱۱ م کال د امریکا د قوم پېژندنې اداري ته لیکلې وه. دا سریزه نږدې اتیا مخونه عملا یوازینی مکتوبي اثر دی، چې بواز د ژبې د عام طبیعت په اړه لیکلی دی"(۵۵)

اډوارډ سپیر ( ۱۸۸۴-۱۹۳۹) د المان او پولنډ په شمال کښې د پامه رانیا په نامه سیمه کښې زېږېدلی دی، کورنۍ یې په ۱۸۸۹ م کال نیویارک ته کډه شوه. پر ۱۹۰۵ کال یې له کلمبیا پوهنتون څخه د جرمني ژبو فقه اللغه (Germanic Philology) کښې د لسانس سند واخیست. پر ۱۹۰۹ کال یې د ډاکټرۍ له رسالې دفاع وکړه، د رسالې لارښود استاد یې هم فرانتس بواز و...د ۱۹۲۴ م کال په دسمبر کې یې له بلومفیلډ سره د امریکا د ژبپوهنې ټولنې (Linguistic Society of America) بنسټ کېښود (۵۶)

د اډوارډسپیرخپاره شوي آثار تر ډېره پورې د امریکا د سورپوستو د ژبو په اړه په ځانګړي ډول د اتابسکایي او یوتو-آزتکي کورنیو د ژبو په اړه دي.، ځینې آثار یې د عمومي ژبپوهنې په اړه هم دي. د بواز شاګرد و، ډېر پیاوړی ژبپوه او وګړپوه و. سربېره پر دې چې د امریکا د سورپوستو ژبو ته یې توجه درلوده او د هغوی ځینې ژبې یې خېړلې وې، د ژبې په اړه یې عمومي مطالعه هم کوله. وړپسې لیونارډ بلومفیلډ( ۱۸۸۷-۱۹۴۹) رامنځته شو، چې پر ۱۹۲۸ م کال یې خپل کتاب ( Language) خپور کړ، په دغه وخت کښې دا کتاب ډېر مهم کتاب و د ژبپوهنې، تر ۱۹۵۷ م کال پورې بلوم فیلډ او د هغه د ملګرو نظریات په اروپا او امریکا کښې خپاره ول، خو پر ۱۹۵۷ کال په ژبپوهنه کښې یو بل انقلاب رامنځته شو، چې د

پروفیسور چامسکي نظریات په دغه برخه کښې ډېر بدلون راوسته، ددې نظریې پر بنسټ "ګرامر د هغه علم د اصولو او قواعدو نوم دی، چې یو بچی یا بچۍ یې د خپلې مورنۍ ژبې د زده کولو په دوران کښې زده کوي، دی ټولې جملې نه زده کوي، بلکې صرف قواعد زده کوي، کوم چې دده پر ماغزو باندې مستقل نقش شي او بیا ټول عمرددغو په مطابق دی دغه ژبه استعمالوي، دی وایي چې په انساني دماغ کښې د ژبې د زده کړې له پاره خصوصي حصه جوړه شوې ده، ځکه که یو انسان غواړي او که نه غواړي دی به یو نه یو ژبه خامخا زده کوي"(۵۷)

پایله

په نړۍ کښې د ژبپوهنې د تاریخي بهیر د پېدا ایښت په څېړنه کښې دا جوته شوه، چې د لومړي ځل له پاره ژبنۍ څېړنې په آریانا کښې پیل شوي، ځکه هغه مهال چې په یونان کښې د شي او د هغه د نامه ترمنځ د اړیکو درلودو پر طبیعي والي او قراردادي والي بحث کېده د آریانا په ګندهارا کښې پاڼیني د سنسکرېت ژبې له پاره بشپړ ګرامر لیکلی و، یعنې د ژبنیو څېړنو پیل له ختیځ شوی البته په لوېدیځ کښې یونانیان لومړني وګړي ول، چې د ژبې د پېدا ایښت په اړه یې ژبني بحثونه کړي دي. په یونان پسې ورسته په روم کښې هم ژبنیو مسایلو ته پام وراوښتی، خو رومیانو په دې برخه کښې نوے ابتکار نه درلود، د یونانیانو تقلید یې کړی دی. کومې ژبنۍ څېړنې چې په چین کښې پیل شوي تر ډېره حده د هندي ژبپوهنې له تګلوري سره توپیر لري، په هند کښې اکثره څېړنې پر ګرامر بنا وې، خو په چین کښې بیا زیاترو فلسفي رنګ غوره کړی و. په عربي ژبه کښې ژبپوهنیزې څېړنې د قران کریم له نزول وروسته هغه مهال پیل شوې، چې کله مسلمانان د قران د کلماتو په تلفظ او قرأت کښې تېروتنو ته متوجه شول، خو په بنیادي ډول په عربي ژبه کې ژبنۍ څېړنې د (اللغه) او بیا د (فقه اللغه) تر سرلیک لاندې پیل شوي او د وخت په تېرېدو سره په بېلابېلو نورو نومونو هم یادې شوې دي. په اتلسمه پېړۍ کښې د ژبپوهنې مهمه موضوع له سنسکرېت سره اشنایي وه او دا کار په نړۍ کښې په منظم ډول د تاریخي تطبیقي ژبپوهنې د رامنځته کېدو لامل وګرځېد.

په نولسمه پېړۍ کښې ژبپوهنه او ځانګې یې وغوړېدې او په شلمه پېړۍ کښې خو پر لوېدیځ سربېره د نړۍ په ډېرو وروسته پاتو ژبو کښې هم ژبپوهنیزې لیکنې او څېړنې وشوې، چې له امله یې نن سبا ژبپوهنه په ټوله نړۍ کښې د یوه ځانګړي علم په توګه په پوهنتونونو کښې تدریس کېږي او ډېرې برخې لري.

# مأخذونه


۱. الهام، محمد رحیم."دژبنیومطالعاتو د تحول سیر"، کابل مجله، پرلپسي ګڼه ۵۱۰، دولتي مطبعه کابل ۱۳۴۱ل، ۳۱مخ.

۲. الهام، محمد رحیم. "ژبپوهنه په آریانا کښې"، ورمه مجله، دربمه ګڼه، کابل پوهنتون بشري علومو پوهنځی، ۱۳۲۱ل، ۳۴ مخ.

۳. اکرام، بشری. پانیني. پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، فاسټ ټرېک کمیونیکېشن پېښور،۲۰۱۸ز، ۱۲مخ.

۴. رشاد، عبدالشکور. لغوي څېړنه، لومړی ټوک، علامه رشاد اکاډیمي، کندهار، ۱۳۸۷ل، ۲۸۷ مخ.

۵. پورتنی اثر، ۲۸۷ مخ.

۶. هماغه اثر، ۲۸۸-۲۹۱ مخونه.

۷. اکرام، بشری. پانیني، ۳۷ مخ.

۸. الهام، محمد رحیم. "دژبنیومطالعاتو د تحول سیر"، ۳۱ مخ.

۹. پولاد، سیدال شاه."د ژبپوهنې لنډ تاریخ"، د زیري کالنۍ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۷ل، ۴۷۸مخ.

۱۰. الهام، محمد رحیم الهام."د یورپ پر ژبپوهنه باندې د پاني ني د پښوبې(ګرامر) اغېزې"، ورمه مجله، شپږمه ګڼه، کابل پوهنتون د بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۱ل، ۱۸-۱۹ مخ.

۱۱. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس: تهران کتاب ماد، ۱۳۸۷ل، ۳۳ مخ.

۱۲. پورتنی اثر، ۳۰ مخ.

۱۳. مشکوة الدینی، مهدي، سیر زبانشناسی، انتشارات دانشګاه فردوسی مشهد، ۱۳۷۳ ل، ۱۲ مخ.

۱۴. تړی، حبیب الله."د ژبې پېدایښت"، کابل (مجله)، ۱۲ ګڼه، دولتي مطبعه، ۱۳۳۲ل، ۴ مخ.

۱۵. صفوی، کورش. آشنایي با تاریخ زبان شناسي، نشر پژواک کیوان، چاپ خانه کامیاب تهران، ۱۳۸۲ل، ۴۴مخ.

۱۶. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس ، ۸۰ مخ.

۱۷. الهام، محمد رحیم. روش جدید در دستور زبان دری، کابل پوهنتون، ۱۳۴۹ ل، ۳۹ مخ.
۱۸. زیدان، جرجی. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ژباړه: علی جواهر کلام، انتشارات امیر کبیر تهران، ۱۳۸۴ ل، ۴۷۷ مخ.
۱۹. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس ، ۱۰۹ مخ.
۲۰. صفوي، کورش. آشنایي با تاریخ زبان شناسي، ۲۲ مخ.
۲۱. پورتنی اثر، ۴۴ مخ.
۲۲. زیدان، جرجی. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ژباړه: علی جواهر کلام، ۴۷۷ مخ.
۲۳. هلالي، عبدالحکیم. "ختیځه ژبپوهنه"، کابل مجل، پنځمه ګڼه، پښتو ټولنه،۱۳۵۳ل، ۳۴ مخ.
۲۴. پورتنی اثر، ۳۵ مخ.
۲۵. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس، ۲۳۱ مخ.
۲۶. پورتنی اثر، ۲۳۰ مخ.
۲۷. هماغه اثر، ۲۳۵ مخ.
۲۸. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ژباړه:سید حسین سیدي، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی، تهران، ۱۳۷۹ل ،۲۸ مخ.
۲۹. پورتنی اثر، ۷۱ مخ.
۳۰. جرجي زیدان. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ژباړه: علی جواهر کلام، ۴۸۱ مخ
۳۱. پورتنی اثر، ۴۸۲ مخ.
۳۲. حنا الفاخوري.تاریخ ادبیات زبان عربي، شپږم چاپ،ژباړه: عبدالحمید آیتي، انتشارات توس تهران، ۱۳۸۳ل، ۵۵۵، ۵۵۲ مخونه.
۳۳. پولاد ، سیدالشاه پولاد. "د ژبپوهنې لنډه تاریخچه"، د زیري کالنۍ،۵۰۷ مخ.
۳۴. ژان محمد ، عبدالجلیل. تاریخ ادبیات عرب،څلورم چاپ، ژباړه: آ. آذرنوش، موسسه انتشارات امیر کبیر ، چاپخانه سپهر تهران، ۱۳۸۱ل، ۱۴۰ مخ.
۳۵. محمود فهمي حجازي. زبان شناسي عربي، ژباړه: سید حسین سیدي ، ۲۲ مخونه.
۳۶. زیدان، جرجي. تاریخ تمدن اسلام، یوولسم چاپ، ژباړه: علی جواهر کلام ، ۴۵۵ مخ.
۳۷. پورتنی اثر، ۴۸۰ مخ.
۳۸. حنا الفاخوري. تاریخ ادبیات زبان عربي، شپږم چاپ، ژباړه: عبدالحمید آیتي، ۲۲۳ مخ.

۳۹. گوستاولوبون . تاریخ تمدن اسلام و عرب، دویم چاپ، ژباړه: سید محمدتقي فخر داعي گیلاني،انتشارات افراسیاب، پیک ایران، ۱۳۸۰ل، **۵۵۰** مخ.
۴۰. پورتنی اثر، **۱۲۷** مخ.
۴۱. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس، **۲۱۳** مخ.
۴۲. حجازي، محمود فهمي. زبان شناسي عربي، ژباړه: ډاکټر سید حسین سیدي، **۵۸** مخ.
۴۳. پورتنی اثر **۸۲** مخ
۴۴. ار. اچ. روبیز، تاریخ زبان شناسي، اتم چاپ، ژباړه: علي محمد حقشناس، **۱۵۴** مخ.
۴۵. مشکوة الدینی، مهدي، سیر زبانشناسی، **۴۰** مخ.
۴۶. پورتنی اثر، **۴۱** مخ.
۴۷. صفوي، کورش، اشنایي با تاریخ زبان شناسي، **۱۵۳-۱۵۴** مخونه.
۴۸. مشکوة الدیني، مهدي، سیر زبانشناسی، **۴۵** مخ.
۴۹. سهیم، نورمحمد." ژبپوهنه د تاریخ په اوږدو کښې" ،کابل مجله، پرلپسې ګڼه ۷۲۲، دولتي مطبعه کابل، **۱۳۵۹**ل، **۲۴** مخ.
۵۰. مشکوة الدینی، مهدی، سیر زبانشناسی، **۵۴** مخ.
۵۱. پیتر آر. ام. سورن . مکاتب زبان شناسی نوین در غرب، دریيم چاپ، ژباړه : علي محمد حقشناس. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انساني دانشگاها( سمت)، تهران، ۱۳۸۹ل، **۵۲-۵۵** مخونه.
۵۲. پورتنی اثر، **۸۰** مخ.
۵۳. هماغه اثر، **۸۱** مخ.
۵۴. هماغه اثر، **۱۰۸-۱۰۹** مخونه.
۵۵. هماغه اثر، **۱۱۳** مخ.
۵۶. هماغه اثر، **۱۱۷-۱۱۸** مخونه.
۵۷. خټک، خالد خان، "ژبپوهنه او پښتو ژبه"، پښتو(مجله) پښتو اکېډمي پېښور یونیورسیټي، **۲۰۰۴**ز، **۹** مخ.